
Welcome Afghans



# کور ته ښه راغلاست - ایبټسفورډ، بریټیش کولمبیا




نفوس: ۱۹۵,۷۲۶ **خلک (۲۰۲۱ سرشمېرنه)**
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځي آسیا خلک، عربان او افغانان په کې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

ایبټسفورډ[1]

- د وانکوور، ویکټوریا او کیلونا څخه د باندې بریټیش کولمبیا یو له لویو ښارونو څخه دی
- چې "د ټول هېواد د ښار" په توګه پېژندل کېږي

د فریزر ویلي سیمه ییزه ناحیه

- په بریټیش کولمبیا ولایت کې قرار لري
- چې په دې کې د ایبټسفورډ، چیلیواک، میشن، هریسن هوټ اسپرینګز، هاپ، او کینټ ناحیې قرار لري

د بریټیش کولمبیا ولایت

- د امریکا متحده ایالاتو اړوند له البرټا ایالت، ارام سمندر او واشنګټن ایالت سره ګډه پوله لري
- په کاناډا کې یو له خورا متنوع ولایتونو څخه دی
- د کډوالو لوی نفوس پکې اوسیږي

ایبټسفورډ ګرم اوړي لري چې په جولای میاشت کې یې ورځنۍ د تودوخې منځنۍ لوړه درجه یې د سانتي ګراد په کچه ۲۴ °درجې وي او د جنورۍ په میاشت کې یې ورځنۍ د تودوخې منځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه -1° درجې وي.

[1] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



په پسرلي کې د الوبالو ګلونه، ایبټسفورډ، برتانوي کولمبیا.

# د ایبټسفورډ د ځایي خلکو او د ځمکې په اړه

د دې ځای خلک په کاناډا کې له اروپایي میشتو او هغو خلکو له رسیدو څخه مخکې دلته اوسیږي چې دغه ځمکه یې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه.  ایبټسفورډ د ماتسکي او سماس د لومړنیو ملیتونو په دودیزه سیمه کې موقعیت لري.



د پسرلي پر مهال د ایبټسفورډ د استوګنځایونو او د سړکونو ننداره.

# ورځنی ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

د فریسر سیمه د کار کولو، د کورنی د روزني، سوداګری او مطالعي لپاره یو مناسب ځای ګڼل کیږي

د فریسر سیمه د بریټیش کولمبیا یو لوی کرنیز مرکز دی، دا په دې معنا ده چې دلته د سوداګرۍ ګڼ شمېر ډولونه لکه فارمونه، باغونه او د کب نیولو کښتۍ شتون لري.

تاسو کولی شئ په دې ځای کې دغه دندې هم پیداکړئ

- فضأ نوردي
- تولیداتو
- تکنالوژي

تر جون ۲۰۲۳ پورې، په بریټیش کولمبیا کې لږ تر لږه رسمي تنخواه په یو ساعت کې ۱۶٫۷۵ ډالره ښودل شوي ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوي. د یوې کورنۍ لپاره یې د کور اخیستلو منځنۍ قیمت نږدې۱,۶۰۰,۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکې اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱,۴۰۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د بریټیش کولمبیا له ځای دولت څخه د کور کرایې کونکو او کرایې ورکونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دلته ګن شمېر ښوونځي ، ورځنی پاملرنې خدمات، او له- ښوونځي وروسته پروګرامونه شتون لري. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (له ۳ یا ۴ کلنی) څخه تر ۱۲م ټولګي (تر ۱۷ یا ۱۸ کلنې) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي کالج یا پوهنتون ته ولاړ شي یا هم دنده پیل کړي.

بریټیشکولمبیا له ۱۰ څخه زیات لوی پوهنتونونه لري، چې له د ایبټسفورډ څخه په موټر کې د ۱۰۰ کېلومترو په واټن کې شتون لري

- د برتانوي کولمبیا د تکنالوژۍ انستیتیوت
- د کاپیلانو پوهنتون
- ایملي کار د هنرونو او طرحه ریزۍ پوهنتون
- د برتانوي کولمبیا د عدلي انستیتیوت
- د فریسر درې پوهنتون
- د کوانتلن پولیتخنیک پوهنتون
- د برتاوي کولمبیا پوهنتون
- د سایمن فریسر پوهنتون (دوه څانګې لري: چې په وانکوور او سورې کې موقعیت لري)

دلته ګڼ شمېرکالجونه هم شتون لري چېرته چې تاسو کولی شئ په بریټیش کولمبیا کې زده کړې وکړئ. لاندې ځایونه له ایبټسفورډ څخه په موټر کې د ۱۰۰ کېلومترو په واټن کې شتون لري

- د نیکولا درې د تکنالوژۍ انستیتیوت
- د وانکوور د ټولنې کالج
- د دوګلاس کالج
- د لنګارا کالج

تاسو کولی شئ ګڼ شمېر سپورتونه هم وکړئ، لکه

- سکواش
- هاکي
- کرکټ
- ګولي فوټبال (فوټبال)

تاسو کولی شئ د ایبټسفورډ په سیمه کې د کال په اوږدو کې له شته مراسمو څخه هم خوند واخلئ، لکه

- ژمنی جشن
- د بزګرانو بازار
- او نورو فعالیتونو
- د ایبټسفورډ د هوایي چارو نندارتون
- د موسیقی جشنونه
- موزیمونه
- د تیاتر یا سینمایي تولیدات

د ایبټسفورډ ښار له ۱۵۰ څخه د زیاتو پارکونو په درلودلو سره ۲٫۵۰۰ جریبه شنه ساحه لري.

له ایبټسفورډ ښارڅخه د تفریح په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

#ديني او کلتوري اتحاديې

[د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور لاندې](), تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکې (SPO) اداره کولی شي تاسي سره په فریسر سیمه کې د سیمه ییزو کلتوري اتحادیو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي.

# ځانګړې خواړه

په دې سیمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمېر پلورنځي نړیوال خوراکي توکي پلوري. ډېری لوی سوپر مارکیټونه او د مینځني ختیځ اړوند ګڼ شمېر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکې اداره (SPO) کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سیمې ته نږدې پلورنځی پیداکړئ.

# د نویو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سیمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نورې سرچینې:

- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د ځیرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوي خدمتونه پیداکړئ
- ویډیو: کډوالي او په کاناډا کې ځای پرځای کېدل
- د فریسر درې د کډوالو د چمتووالي کاري ډله
- د ایبټسفورډ د کډوالو د ځایي همکارۍ اداره
- د ایبټسفورډ ښار